**د افغانستان اسلامي امارت**
**د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجۍ وزارت**
**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**

# د اترا اداري اړوند بېلا بېلو ریاستونو د کړنو او لاسته راوړنو راپور

## ❖ د فریکونسیو د منجمنټ په برخه کې عمده لاسته راوړنې:

- د اړوندو جوازلیکونو له لارې په بېلا بېلو ولایتونو کې (۲۷) اف ام راډیوګانو ته فریکونسۍ توزیع شوې دي، چې له امله یې د هر ټرانسمټر د توان سره سم د راجسټریشن فیس، د فریکونسۍ کلنی فیس او اداري فیسونه اترا ادارې ته جمع شوي دي.
- د اړوند جواز لیک له لارې (۱) تلویزیون ته فریکونسي توزیع شوې، چې د ملي او اداري عوایدو ترڅنګ د یادې رسنۍ خپرونې د هیواد په کچه لا پسې پراخه او د لاس رسي وړ ګرځیدلې دي.
- د تیر کال را پدیخوا (۱۱۵۲) لوی او واړه مخابراتي ټاورونه د شته مخابراتي، ISP او TTSP شرکتونو لخوا راجسټر شوي دي، چې په هر ټاور کې بیا د یو یا څو شرکتونو له لوري د مختلفو بانډونو BTSs، MW او نور مخابراتي وسایل نصب شوي، چې له هر یو ټاور څخه عواید تر لاسه او له مخابراتي خدمتونو بې برخې او محرومو سیمو ته، چې په تېر کې ورته هیڅ پاملرنه نه وه شوې، مخابراتي خدمتونه رسیدلي دي.
- همدارنګه د اړوندو جوازلیکونو پر مټ (۳۳۷) مایکروویف لینکونو ته فریکونسي توزیع شوې، چې د هر مایکروویف لینک د راجسټریشن څخه د فریکونسۍ اداري او کلنی فیس تر لاسه شوي دي.
- د هېواد په کچه (۲۱۶۷) BTS راجسټر شوي، چې د هر BTS د راجسټریشن څخه په بېلابېلو کټګوریو کې عواید تر لاسه او د مخابراتي پوښښ په پراخوالي او کیفیت لوړولو کې یې مهم رول لوبولی دی.
- (۴۵) VSATs ثبت او راجسټر شوي، چې د مخابراتي خدمتونو په پراخوالي او د یادو خدمتونو د کیفیت پر ښه والي سربېره یې د فیسونو له لارې اداري ته مالي عواید هم جمع شوي دي.
- (۶۳) واکي ټاکي مخابرو او (۷) ریپیټرونو لپاره د فریکونسۍ جوازلیکونه صادر شوي دي، په ټولیزه توګه ۷ ریپیټرونه ۴۰۴ هنډسیټونه او ۱۶ د واکي ټاکي مخابرو بیس سټیشنونه راجسټر شوي، چې له امله یې عواید هم ترلاسه شوي. همداراز بېلابېلو پانګوالو او په خدمت بوختو نړیوالو شرکتونو او بهرنیو ډیپلوماتیکو ځانګو (سفارتونو) ته د مصئونه، آسانه، چټکو او ارزانه اړیکو ټینګولو آسانه لارې چارې چمتو شوې دي.
- د اړوندو جوازلیکونو له لارې (۴۱) Wi-Fi خدمتونو لپاره فریکونسي توزیع شوې ده، چې د فریکونسي او اداري فیسونو له اړخه عواید ترلاسه او ډیرو وګړو ته یې انټرنټي خدمتونو ته د لاسرسي آسانتیاوې هم برابرې کړې دي.
- د (۳۷۰) سټلایټ تیلفونونه ثبت او راجسټر شوي، چې له امله یې بهرنیو سیلانیانو او داخلي ارګانونو ته د عاجلو، آسانه، او چټکو اړیکو نیولو زمینه مساعده او له دې لارې عواید هم تر لاسه شوي دي.
- د فریکونسۍ (۱۰۹۴۳) جوازلیکونه نوي، (۵۵۰) تعدیل او (۲۵۷۸) هغه جوازلیکونه چې نور ورته اړتیا نه لیدل کېده، فسخ شوي دي، چې له دې لارې هم اداري ته عواید اضافه شوي دي.
- د (۱۴۰۲) هـ ش کال په حوت میاشت کې د موبایل براډ بانډ خدمتونو د عرضه کولو په موخه مخابراتي شرکتونو ته د مزایدې له لارې اضافه فریکونسي وویشل شوه، چې د څه باندې اته نوي (۹۸) میلیونه امریکایي ډالرو عوایدو په تثبیتېدو باندې پای ته

ورسېده. یاد عواید به د اړوندې پالیسۍ له مخې د ګټونکو شرکتونو څخه را ټولیږي، چې له دې سره به په نږدې راتلونکي کې د هیواد په کچه د موبایل براډبانډ خدمتونو په کیفیت او پوښښ کې د پام وړ ښه والی رامنځته شي.

- همدارنګه دSMS4DC سافټویر څخه د ګټې اخستنې لپاره د بېلابېلو مخابراتي خدمتونو لپاره د نوي اپلیکیشن فورمونه ډیزاین او عملاً پلي کیږي.
- دE-Band فریکونسي چې د Backhaul Connectivity لپاره مهمه فریکونسي ده اوس مهال د یو لړ شرایطو په نظر کې نیولو سره کاملاً تزیع ته اماده ده چې له دې سره به له یوې خوا د مخابراتي خدمتونو په کېفیت کې مثبت تغېر راشي او له بل پلوه به د دې ادارې لپاره د عوایدو په یوه مهمه سرچینه بدله شي.

## ❖ د مخابراتو د پرمختیایي پروژې اړوند لاسته راوړنې!

د ټولیز لاسرسي لسمه پروژه چې د ریاست الوزرا د عالي مقا م له لوري منظور شوې د ټول هیواد په کچه د ۵۱۰ مخابراتي سایټونو جوړول او فعالول په کې شامل دي، چې د کار د ښه او چټک ترسراوي په موخه د واحدې سرچینې او داوطلبی په طریقه په دریو ولایتونو ویشل شوې ده.

- لومړی لاټ چې د ۵ ولایتونو (ارزګان، زابل، نورستان، بدخشان، کابل د غزنی – زابل – قندهار لویه لاره د کابل- ننګرهار -کنړ -نورستان لویه لاره) لپاره په کې ۳۵ سایټونه شامل وو قرارداد یې د ګټونکو شرکتونو سره لاسلیک شوی دی، چې د ۱۲ سایټونو رغنیزې چارې بشپړې او عملاً فعالیت کوي. په پاتې سایټونو یې کار روان دی چې په قرارداد کې ذکر شوې مودې سره سم به یې چار ې بشپړې شي.
- دوهم لاټ: چې د هېواد د ۱۸ ولایتونو (فاریاب، ننګرهار، پکتیکا، کندهار، غزني، کندز، هلمند، تخار، میدان وردګ، جوزجان، بادغیس، کنړ، غور، نیمروز، ارزګان، نورستان، بدخشان او زابل) په ۲۳۰ ولسوالیو کی د ۲۷۹ ټاورونو جوړول شامل دي، د ارزیابۍ پروسې په پایله کې افغان تیلي کام شرکت د ټولو سایتونو جوړولو ګټونکی او تړون یې ورسره لاسلیک شو، چې د سایټونو د ځای ټاکلو په موخه د اړوند ولایت د مخابراتو ریاست ، د اترا ادارې ولایتي مسؤلینو او د افغا ن تیلي کام مخابراتي شرکت استازو له لوري سروې ترسره او د سایټونو رغولو چارې عملاً روانې دي.
- درېیم الټ: د هېواد د ۱۵ ولایتونو (بامیان، فراه، هرات، لغمان، پکتیا، پروان، سمنګان، دایکندي، لوګر، بلخ، خوست، کاپیسا، سرپل، پنجشیر او بغلان) په ۱۰۴ ولسوالیو کې د ۱۱۹ سایټونو جوړول او فعالول شامل د ي، چې د ارزیابي پروسه یې بشپړه او په پایله د افغان تیلیکام مخابراتي شرکت د ټولو سایټونو د رغولو ګټونکی اعلان شو چې د سایټونو د ځای ټاکلو په موخه د اړوندو ادارو له لوري سروې پیل شوې او د سایټونو رغنیزې چارې به هم ډ ېر ژر پیل شي.

همدارنګه د هېواد ځینې لیرې پرتې سیمې چې په تېرو کلونو کې ورته ډ ېر کم او یا هم هېڅ مخابراتي خدمتونه نه دي رسېدلي د یادو سیمو خلکو د ِغوښتنې او د اترا ادارې د پلټنو په پایله کې هغوی ته له واحدې منبع د سایټونو جوړولو وړاندیز د ریاست الوزرا د مقام لخوا منظور شوی، چی تر اوسه له همدې لارې د ۷ سایټونو قرارداد د ګټونکو شرکتونو سره لاسلیک، د ۲۴ سایټونو د ارزیابۍ پروسه بشپړه او د ۴ سایټونو د ارزیابۍ پروسه جریان لري او د ۱۶ سایټونو د فعالولو لپاره مخابراتي شرکتونو ته د آفرونو را استولو بلنه ورکړل شوې ده.

## ❖ د اداري د سیستمونو د بډاینې او عصري جوړونې په برخه کې لاندې پروژې بشپړې شوې دي!

- د فریکونسیو د طیف منجمنت پروژه بشپړه شوې ده.
- د TEMS پروژه پلې شوې ده.
- د افغان پُست اداري لپاره د ټکنالوژۍ د زیربناوو پروژې قرارداد لاسلیک شوې دي.

## ❖ دست آوردهای ریاست نظارت و کنترول بابت سال مالی ۱۴۰۲:

- این ریاست مجموعاً (۸۳۰۶) مورد شکایات از طریق شماره، ۹۹۹ صفحات اجتماعی، عرایض، مکاتیب و حضور مستقیم مشترکین، سمع شکایات اداره اترا دریافت نموده است. که بخاطر رسیدگی به شکایات مجموعاً (۴۶۸) فورمه ثبت شکایات آنلاین و تحریر مکاتیب صورت گرفته به شرکت‌های مخابراتی ارسال گردیده است. و مجموعاً (۴۶۸) شکایات مورد رسیدگی صورت گرفته و متباقی شکایات از طرف مؤظفین سمع شکایات راهنمایی‌های لازم و بعضی آنها جهت اجراآت بعدی به ریاست‌های داخلی ارسال شده است.
- مجموعاً (۸) قضیه سرقت کریدت از طریق تماس‌های تلفنی اقراد فریب کار دریافت گردیده که مبلغ (۴۴۶۵۰) افغانی کریدت کارت مشترکین سرقت گردیده است. که با همکاری شرکت‌های مخابراتی به ارزش (۳۶۰۵۳) افغانی کریدت کارت سرقت شده به اشخاص متخلف به وزارت محترم امور داخله جهت رسیدگی به ابعاد جرمی و کشفی ارسال گردیده است.
- همچنان (۶) مورد قضایای سرقت کریدت اشخاص متخلف به وزارت محترم امور داخله جهت رسیدگی به ابعاد جرمی و کشفی ارسال گردیده است.
- بررسی از نصب و اعمار ۱۵۹۵ تاور مخابراتی مطابق به طرزالعمل نصب و اعمار تاورهای مخابراتی، در سطح مرکز و ولایات کشور می‌باشد.
- بررسی از ۳۴ مورد اخلال فریکونسی بر اساس تقاضای شرکت‌های مخابراتی و حتی الامکان رفع منابع اخلال فریکونسی در سطح کشور صورت گرفت.
- خنثی شازی ده‌ها مورد وسایل غیر مجاز مخابراتی از قبیل رپیترهای غیر مجاز که باعث تأثیرات منفی در کیفیت خدمات مخابراتی می‌گردد.
- در شهر کابل سیستم فریکونسی مانیتورینگ نصب و راه اندازی گردید.
- از نشرات رادیوها و تلویزیون‌ها در مرکز و ولایات کشور روی فریکونسی توزیع شده به آنها نظارت دوامدار و منظم گردیده است.

## ❖ د حقوق او جواز ریاست:

- د حقوق او جواز ریاست ټولټال ۲۹ جوازونه او جوازلیکونه صادر کړي دي، چې له دې ډلې څلور جوازونه؛ یو د ملي فایبر، دوه د ښاري فایبر او یو د (ملی آی اس پي) جواز او پاتې نور یې جوازلیکونه دي چې په دې کې؛ ۱۲ (ټي ټي اس پي، ډي ګرېډ)، ۹ دمخابراتي وسایلو د تورید او فروش او دوه د (وي ایس اې) او دوه د (آی وي آر) جوازلیکونه شامل دي، صادر کړي دي.

- یاد ریاست پنځه جوازونه او جوازنامې تسوید او ترتیب کړې، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو: د سیمکارتونو د خرڅالو، ثبت او راجستریشن د جوازلیک چمتو کول، د آی سي تي خدمتونو، د عادي کال سنټر او سوپر وای پای جوازلیکونو د مسودو چمتو کول او د مخابراتي وسایلو د تورید او خرڅالو جوازلیک تعدیل په کې شامل دي.
- دغه ریاست پنځه کړنلارې او میکانیزونه چمتو کړي دي، چې په مخابراتي شرکتونو کې د بهرنیو اتباعو د ګومارنې کړنلاره، د جوازونو او جوازلیکونو د طی مراحل کړنلارې مسودې، د جوازونو او جوازلیکونو د لغوه کیدو کړنلارې د مسودې او هیواد ته د بیرته راستنیدونکو کډوالو لپاره د مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د آسانتیاوو میکانیزم چمتوکول په کې شامل دي.
- همداراز یاد ریاست درې کړنلارې تعدیل کړې دي چې په هغې کې د اسهامو د لیږد (واګذاری) د جوازونو او جوازلیکونو، د مخابراتي شرکتونو د اشتهاري اعلانونو او عامه نظرغوښتنې کړنلارې شاملې دي.
- یاد ریاست په مخابراتي شرکتونو کې د بهرنیو اتباعو د استخدام کړنلارې مسودې او د موبایل څلورم نسل خدمتونو د فریکونسی تخصیص مزایدې پالیسی مسودې په هکله عامه نظرغوښتنې هم په لار اچولې دي.

### ❖ دست آوردهای ریاست تحلیل و رقابت:

- ایجاد سیستم جهت جمع‌آوری احصائیه شرکت‌های مخابراتی و انترنتی.
- ایجاد سیستم جمع‌آوری عواید.
- خانه پُری سوالنامه‌های اتحادیه‌های جهانی، مراجع ملی و بین المللی منجمله اتحادیه جهانی مخابرات (ITU).
- ترتیب نقشه‌های خورد و کلان از معلومات‌های حاصله از راپورهای ربعوار احصائیوی مخابراتی و فایبرنوری.
- تحلیل ترفه‌های خدمات مخابراتی جهت تعیین سقف قیمت‌ها.
- تحلیل راپورهای مالی تعیین شده شرکت‌های مخابراتی.
- ایجاد سیستم جهت جمع‌آوری ترفه‌ها از شرکت‌های مخابراتی.

### ❖ د دعوت او ارشاد ریاست لاسته راوړنې:

د مخابراتي خدمتونو تنظیم ادارې د دعوت او ارشاد ریاست، د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت سره سم د دې ادارې په چوکاټ کې د اداري کارکوونکو د دیني پوهې لوړولو او تبعیض د مخنیوي په موخه رامنځ ته شوی دی، چې د یادو موخو د ترسره کولو لپاره یې د ورځې په اوږدو او د ماسپښین له لمانځه وروسته اوږد مهاله تدریسي او اصالحي برنامې په لاره اچولې دي.

یاد ریاست د اترا ادارې کارکوونکو د سیرت او صورت برابرولو، هغوی ته د اسلام د پنځو بناوو(کلیمې، لمونځ، روژې، زکات او حج) په اړه د هر اړخیزو معلوماتو ورکولو ترڅنګ، د نبوي سیرت، قرآنکریم ژباړې او تفسیر په ګډون د بېلابیلو موضوعاتو په هکله د ماسپښین له لمانځه وروسته په جمعې توګه او د ورځې په اوږدو کې په ګروپي توګه بېلابیل پروګرامونه نیولي دي.

یاد ریاست د لا ډېرو او ښو معلوماتو وړاندې کولو لپاره د ادارې کارکوونکو ته په دواړو رسمي ژبو د دعوت او ارشاد نصاب تر عنوان لاندې یو کتاب چاپ او ویشل دی، چې د دیني پوهې لوړولو په برخه کې ډېر ګټور تمام شوی دی. دغه ریاست شکایاتونو ته د رسېدو او د قومي، ژبني او سمتي تبعیض د مخنیوي په برخو کې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله فرمانونه تطبیق او له هغې یې پر وخت څارنه تر سره کړېده.

## ❖ د اداري ریاست لاسته راوړنې:

د اترا اداري رياست د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجۍ وزارت د نورو اړوندو چارو تر څنګ د آتلس پوړيزه ودانۍ د ۵ پوړونو پارکيټ، رنګ او پارټيشن، د اداري کارکوونکو لپاره د کاري ساحې (ورک سټيشن) جوړ او چمتو کړي د ي.

ياد رياست د ټولو پوړونو لپاره عمومي او دفتري ليک دړې (لوحې) نصب او مراجعينو ته پر سم ځايونو او څوکيو سربيره د طيف مانيتورنيګ لپاره ناک روم جوړ او چمتو کړی دی. همدارنګه د مخابراتي خدمتونو د کنترول، څارنې او د سايټونو څخه د بررسۍ په موخه يې د ۱۱ عراد و بېلابېلو وسايطو خريداري ترسره کړې.

## ❖ د بشري سرچينو رياست لاسته راوړنې:

- د آزادې سيالۍ او آزموينې له لارې ۱۰۵ مسلکي، متخصص، متعهد او انګيزه لرونکي کسان جذب او په رسمي دندو ګمارل شوي دي.
- د اصولو له مخې ۱۵ قراردادي کارکوونکي د رياستونو د اړتيا سره سم جذب شوي دي.
- د قانونو د حکمونو پر بنسټ د ۱۴۰۲ کال تعينات ترسره کول او په ترڅ کې يې په شرايطو برابرو او با استعداده کارکوونکو ته ارتقا ورکړل شوې ده.
- د ادارې ۳۰ کسه کارکوونکو ته د لوړې کچې اکسل Advance Excel دوه مياشتني پروګرامونه چمتو شوي دي.
- د اداري کارکوونکو ته د محاسبې / Accounting په برخه کې په بريالۍ توګه زده کړې ورکول شوي دي.
- د پلان او پراختيا، تدارکاتو او نورو اړونده رياستونو لپاره يې د پروژو د مديريت په برخه کې ۱۲ ورځنۍ ټريننګ برابر او په بريالۍ توګه ترسره کړی دی.
- په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د مختلفو پوهنتونونو فاريغينو او د اخيري سيمسټر ۱۶ زده کړيالو ته د پرکتيک د دورې زمينه برابره کړې ده.
- په ۱۴۰۲ کال کې يې د ادارې کارمندانو ته د انګليسي زده کړې ټولګي پيل کړي دي، چې تر اوسه دوام لري.
- د هېواد په معتبرو سايټونو کې د کار موندنې د خالي بستونو اعلانول او په کار پوه، متخصص، شايسته زيار ايستونکي او تحصيل لرونکي ځواک ساتل.
- په اداره کې د سالم کاري چاپيريال رامنځته کول.
- د بشري ځواک تامين، ساتل او هغې ته پراختيا ورکول.